## لس ورځې د سولې لپاره کمپېن وروستی پرېکړه لیک

## د ۱۳۹۱ کال د تلې ۹ مه

### سوله یواځې د جګړې نشتون نده،بلکه سوله هغه مهال په ریښتیني مانا کارېږي او ریښتینې بڼه مومي،چې دعدالت او تفاهم پر بنسټ ولاړه وي.

موږ دلس ورځې د سولې لپاره خوځښت ګډون کوونکي،د دې خبرې په منلو سره چې سوله په افغانستان کې له بیلابیلو خنډونو لکه،ترهګرۍ،جګړې، بېوزلۍ،بې عدالتۍ،دواکمن غوښتنې ناروغۍ او سیاسي،اقتصادي اوکلتوري واک غوښتنو سره مخ ده،د دولت دبنسټیز مسؤلیت ترڅنګ دیني علما،پوهان، نادولتي او مدني سازمانونه هم باید خپل انساني او ټولنیز مسؤلیت په دې اړه په جدي توګه تر سره کړي.د وروستیو څلورو لسیزو دترهګریزو پېښو د پاتې شونو له کورنیو سره د خواخوږۍ د څرګندلو ترڅنګ، غواړو ترڅو د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې او له منځه وړلو لپاره باید د ترهګرۍ جرړې او لاملونه پیدا شي او موږ د هر هغه اقدام مخالفت کوو کوم چې د بوې وسیلې په بڼه کارول کیږي،دوه مخی وي او یاهم په یو اړخیزه بڼه ترسره شي اوهمدارنګه موږ دافغانستان د نافذه قوانینو په رڼا کې هر هغه څه محکوموو کوم چې د دې خاورې د وګړو حقونه تر پښو لاندې کوي او په ټینګ هوډ سره د هغو کړنو ستاینه او ملاتړ کوو،کوم چې دعقلانیت پر ستنو ولاړ وي او د سولې پر وړاندې له شته خنډونو سره مبارزه کوي،د سولې او دوستی په اړه د زده کړې محوري نقش ستایو ترڅو له تاوتریخوالي او ترهګرۍ سره مبارزه وکړي،د مدني ټولنې،څېړنیزو ادارو او رسنیو د ستایلو ترڅنګ د لاندې ټکو په باره کې خپله موافقه اعلانوو او له دولت،حزبونو او نړیوالې ټولنې یې د پلي کولو غوښتنه کوو:

۱- د عادلانه سولې له مفکورې څخه چې د کلتور،قوانینو او اخلاقي موازینو پر بنسټ ولاړه وي د ګډو خبرو اترو په نوم ملاتړ کوو،او ټینګارکوو چې سوله یواځې هغه مهال تلپاتې او د افغانانو په ګټه ده چې د عدالت او انساني کرامت پر بنسټ ولاړه وي،نو په واک کې د جنایت کارانو له شتون څخه ملاتړ مه کوئ او د جګړې د قربانیانو د برحقه غوښتنو سره سم د عادلانه محاکمې زمینه برابره کړئ. لنډې حل لارې او چټکې کړنې به یوځل بیا د ترهګریزو کړنو لپاره د آسیا په زړه کې خوندي تم ځای جوړ کړي چې پایلې به یې د افغانستان او نړۍ د وګړو لپاره زیان راوړونکې او تر پخوا خطرناکې وي.

۲- د عدالت د پلي کیدو لارې چارې منځته راوړئ او له سزا څخه له تېښتې سره مبارزه وکړئ، ټول هغه خلک چې د بشري حقونو، د بشري حقونو د نړیوالو کنوانسیونونو اواساسي قانون سرغړونکي دي باید پوښتنو اوګرویږنو لاندې ونیول شي،د دغو وګړو ډیری یې اوس هم په داسې پوستونو کې کار کوي چې دا زمینه ورته برابره ده چې بیا هم د انسانانو حقوق تر پښو لاندې

کړي،څکه نو په دولتي ادارو کې باید د پوښتنو ګروېږنو لاري چارې غښتلي شي،د قربانیانو د زیانونو بدله دې ورکړله شي،دغه ټکي دراتلونکي غښتلي،بریالي او ډیموکراتیک افغانستان لپاره اړین ګڼل کیږي.دحقیقت، عدالت او زیان ورکوونې د پېژندلو لپاره باید د قربانیانو حقونو ته درناوی وشي او په سمه بڼه باید تر سره شي.

۳- عدلي بنسټونه غښتلي،او د قواوو ریښتنی جلاوالی رامنځته کړئ، په افغانستان کې د مثبتې سولې لپاره،د ډیموکراتیکو بنسټونو او د هغوی انتخابي ټولنو او د قواوو له سم او عملي جلاوالي څخه ملاتړ اړین دی. عدلي نظام بشپړه اندازه انساني منابع نلري او نه هم څنګه چې ښایی هغه شان زده کړې لري او ترڅنګ یې په بیلابیلو کچو کې د سیاسي لاسوهنو ښکار دی، په ځانګړي ډول دعالي دیوان او لویې څارنوالی د واکونو بیا کتنه د قضایه اواجرایه قوې د پیوندونو د پریکولو لپاره اړینه ده.د هیواد د رسمي عدلي سیستم د وضعیت ناسموالی نه یواځې دا چې تاوتریخوالي ته لمن وهي او نور دولتي بنسټونه کمزوري کوي بلکه غیر رسمي عدلي سیستم ته وده ورکوي هغه چې د بشري حقونو موازینو او اساسي قانون ته ژمن ندی، پرته له دې چې اساسي حقونو په ځانګړي ډول د ښځو حقونو ته کوم ضمانت موجود وي.

په ټول هیواد کې د قانون واکمنی ته د پلي کیدا د ژمنې اړیتا شته، ټول هغه حقونه چې په اساسي قانون او نړیوالو تړونونو کې چې افغانستان یې غړیتوب لري باید د قانون پلي کوونې،امنیتي او قضایې برخو د پراختیا له لارې تر سره شي.

۴- د کډوالو حقونو ته باید د نړیوالو کنوانسیونونو سره سم رسیده ګي وشي، څو میلیونه افغانان چې په ګاونډیو هیوادونو په تېره بیا په پاکستان او ایران کې ژوند کوي،له خپلو ټولو حقه حقونو څخه لکه: د ښوونې او روزنې حق،دکار،روغیتا،انتخابېدلو او انتخابولو حقونو،د زور واکو او انساني حقونو د ماتوونکو پر وړاندې د ټولنیز ملاتړ له حق څخه بې برخي دي او له دوی څخه د یوې وسیلې په توګه ګټه اخیستله کیږي،چې افغان دولت باید په دې اړه کوټلي ګامونه پورته کړي او د دغو افغانانو د قرباني کدو دې مخنیوي ترڅنګ باید هیواد ته ددوی د بیا راستنیدو زمینه برابره کړي.

۵- د افغانستان د خلکو پر وړاندې غیرانساني او له تاوتریخوالي ډک عملونه او د یوشمېر هیوادونو مداخلې غندو او بنسټیزو حقونو څخه بې ښکاره سرغړونه او د سیمې او نړۍ په کچه یې د سولې پر وړاندې جدي ګواښ او خنډ ګڼو او ټینګار کوو چې د سوکالۍ د منځته راتګ لپاره د عادلانه سولې په چورلیز(محور) باندې راټولیدل اړین دي.

۶- موږ دافغانستان دسولې د عالي شورا په جوړښت کې د بدلون غوښتونکي یو څکه په تېرو څو کلونو کې یې وښوده چې د خلکو ترمنځ اړین باور نلري او نشي کولای د منځته راتګ د اړتیا سره سم مخکې لاړه شي، څکه نو داسې بدلون ته اړتیا شته چې د افغانستان خلک دا شورا خپله وګڼي او نومیالي،دښه نوم،عادل،او هیواد ته ژمن خلک او بیلابیلې ډلې ( قربانیان، ښځي،علما او ځوانان) پکښې ځای ولري.

۷- د ترور دقربانیانو د ملاتړ د اړتیا ترڅنګ،د هغو خلکو او ډلو سزا او تعقیب چې د جنایت په بېلابېلو بڼو تورن دي البته دغه هرڅه باید د عادلانه محکمې،انساني کرامت او د بشر بنسټیزو حقونو ته په کتو سره ترسره شي او دغه کړنې د ترهګرۍ په مخنیوي او له منځه وړلو کې اړینې ګڼو.

انساني ارزښتونو باندې ولاړه ښوونه او روزنه مثبتې سولې ته د رسیدو اړتیاده. اړینه ده چې دولت سولې ته د رسیدو لپاره د سالمې ښوونې او روزنې زمینه په یوه خوندي چاپیریال کې د ټولنې ټولو وګړو( ښځو او نارینه وو ته) برابره کړي. دولت مکلف دی چې د کوچنیانو جدي ملاتړ وکړي څکه د واټونو د سر ډیری ماشومان د ترهګریزو بریدونو قربانیان دي ( تر ټولو وروستی پېښه یې د څلورو تنو ورزشکارانو ماشومانو وژل په یوه ترهګریز برید کې دي) د دې ترڅنګ ناوړه جنسي ګټه ځینې اخیستله کیږي او هم په درندو کارونو باندې بوخت دي.

۸- موږ په افغانستان کې د عادلانه سولې پر وړاندې د شته خنډونو د پېژندلو او مبارزې لپاره د یوه اغیزمن او ولسي ایتلاف چې له مشرانو او ولسي بنسټونو څخه جوړي وي ملاتړ کوو.

**ولي عادلانه سوله؟**

د افغانستا په معاصر پېر(دور) کې د تلپاتې سولې دنه راتلو اونه بريالیتوب يو ستر لامل هغه خبري اتري وي چې د مصلحت پربنسټ ولاړې وي، ځکه نو همدغه ختثی کړني ددې لامل شوې چې ځيني لوبغاړي د ولس ،نظم او امنيت پر وړاندې له هغو څخه د يوې وسيلې په توګه کار واخلي او هم يې د ځاني او ډله ايزو ګټو لپاره وکاروي.

عادلانه سوله له دې پلوه اړينه او د تعقيب وړ ده چې سوله د واک اوقدرت له چرخې او ځاني او ډله ايزو ګټو پرته دانسان او انساني کرامت په پام کې نيولو سره ترسره کيږي. په عادلانه سوله کې، سوله په ځانګړې توګه او يواځې ارزښت ندی، بلکه د فردي او ټولنيز عدالت د پلي کيدو مناسب او وړ بسترد‌ی، له دې کبله نو عادلانه سوله يواځې د موجوده وضعيت په آرامی بسنه نه کوي او د ژوندانه نا عادلانه بسترونو ته د عدالت او انساني او عادلانه اړيکو پر لور لارښوونه کوي.

ځکه نو عادلانه سوله هغه خبري اتري دي چې کولای شي د تيرو او اوسنيو خبرو اترو کمی بشپړاو په افغانستان کې د ټولو انسانانو لپاره دهر اړخيزي او تلپاتې سولې پر لور ګام واخلي.

د لازياتول معلوماتو لپاره: cpd.afg@gmail.com